# د نورالدين کابلي خطي نسخه

**(The Manuscript of Noor Uddin Kabuli)**

عبدالرحمان حبیب زوی*

**Abstract:**

Noor din Kabuli is a missing name in Pashto literature and his manuscript is an underground treasure of Pashto language and literature. For the first time I found his Poem's Divan's Manuscript in Islamabad in Dataa GanjBakhsh library and was shocked for getting such useful manuscript.

Her we will introduce Noor Uddin Kabuli and will have some discussions on his region and his era of life also will analyze his poems and will focus the deferent aspects of his poems regarding new literature and poems artistic material and I am sure that whenever reader read this essay they will be pleased that we add a new treasury to Pashto language and Literature.

**Key words:** Noor din Kabuli , Pashto literature , Dataa GanjBakhsh.

د نورالدين کابلي ديوان (خطي نسخه) ما په کال ۲۰۱۶ کې په اسلام آباد کې د ايران او پاکستان د فارسي څېړنو مرکز د داتاګنج بخش کتابتون د مخطوطاتو برخه کې وموندله،چې راته په زړه پورې وبرښېده،ځکه په ټولو نسخو کې دا نسخه روغه او جوړه وه او همداشان ليک يې خوانا او د څومره والي له حسابه د مخونو شمېر يې تر نورو هغو ډېر و او تر دې مهمه دا چې نظمونه يې د نورو په پرتله ښه او يو لړ موضوعي تسلسل يې درلوده. بله دا چې زه اوس په کوم پې ايچ ډي مقالې کار کوم دا د همدغه کتابتون «داتا ګنج بخش د کتابخانې د پښتو مخطوطاتو تحقيقي او تنقيدي جايزه» نومېږي او دا کتابتون د ايران او پاکستان د فارسي څېړنو مرکز کې موجود دی.

دا هم په کار ده وويل شي،چې پښتو مخطوطات پښتو ادب ته ډېر څه ورکولی شي او د يوې قومي ادبي ورثې په توګه بويه چې په ټولو هغو نسخو علمي ـ څېړنيز او پرتليز کار وشي،چې نوي موندل کيږي او د نسخو په ډله کې نادر ګڼل کيږي.

"د نور الدين کابلي ديوان قلمي نسخه يو له دغو نسخو څخه ده،چې کار ته اړتيا لري او د يوه حقدار ناظم په توګه بايد نورالدين کابلي د ادبي تاريخ په پاڼو کې حفظ شي.اوس راځو د دغې مخطوطې شننې او څېړنې ته. د يادونې وړ ده،چې د نورالدين کابلي خطي نسخه د داتا ګنج بخش د کتابتون په (۱۲۹۰۰) نمبر کې ثبت ده".(1).

* Associate Professor, Academy of Sciences, Kabul, Afghanistan.

**پېژندنه**:

"د نسخې نوم: د نور الدین کابلي دیوان

ناظم: نورالدین کابلي

د خطاطۍ کال : نامعلوم

خطاط : په خپله لیکوال

خط : کمزوری نسخ،خو خوانا ،نیمه توره سیاهي پنسل په شان او همدا شان د نې په وسیله په شین رنګ

کاغذ : نرۍ کاغذ ، سپین او ژېړ ته ورته

د پاڼو شمېر : ۴۰۹

د هرمخ کرښې : ۱۲

**کچه** : 20x16Cm

**د متن کچه** : 18x15Cm

پوښ : کاغذي ګته

د کتابخانې نمره : ۱۲۹۰۰

موضوع : تصوف او عرفان".(2)

**خصوصیات**:

دا نسخه د جدولونه په منځ کې په خوانا خط لیکل شوې ده .لکه څنګه مو چې پورته اشاره وکړه په موضوعي لحاظ دیني،تصوفي او عرفاني افکار یې په نظم کې منعکس شوي دي.نورالدین کابلي فارسي او پښتو دواړو کې نظم ویلی دی،د دې نسخې ډېره برخه پښتو نظمونه دي.د نسخې لومړی او څلورم مخ نشته او پاتې نور بشپړه او روغه نسخه ده.

**د نسخې د ناظم پېژندنه**:

لکه څنګه چې پورته یې یادونه وشوه د دې نسخې ناظم نورالدین کابلی دی،چې په خپلو نظمونو کې یې ځان د کابل د بوتخاک سیمې پورې اړوند بولي.د بوتخاک سیمه د کابل ختیځ ته د بګرامۍ ولسوالي اړونده سیمه ده او همداشان د کابل ښار احمدشاه بابا مېنې لومړۍ څلور لارې هم د بتخاک څلور لارې باندې مشهوره وه،چې اوس ورته د ملالۍ څلور لارې ویل کیږي؛ له څلور لارې شرق خواته دا ټوله سیمه د بتخاک په نامه یادیږي.

"د بت خاک سیمه د کابل-جلال آباد زړه او لرغوني لاره ده،له دې سیمې څخه درې لارې یو یې کندمک ته رسیږي،بله یې لته بنداو درېیمه هغه یې خورد کابل سیمې ته رسیږي.په دې ځای کې اوس یو پخوانی ګمرک Custom شته دي،چې په کمه کچه کار کوي او یو مهال د کابل تر ټولو ستر ګمرک ګڼل کېده. داسې ویل کیږي،چې په ۱۸-۱۹پېړیو کې د بګرام او بتخاک سیمه د لوګر د دفتر اړوند و او د تیمورشاه او زمان شاه د واکمني پر مهال د نایب امین الله خان لوګري پلار میرزایی خان د لوګر،بتخاک او بګرامۍ خان ټاکل شوی و.په بتخاک کې پښتانه او تاجکان اوسیږي،په پښتنو کې لکڼخېل،غلجي او خوږیاڼي قومونه میشت دي".(3)

"د بتخاک په اړه ویل کیږي،چې کله سلطان محمود غزنوي سومنات فتح کړ له بتانو څخه یې یو شمېر له ځانه سره خپل هېواد ته راوړل؛کله چې د فاتحینو قواوو په دې سیمه کې د لږ وخت لپاره واړول د سلطان په امر یې ځینې بتان مات کړل یانې له خاورو سره یې خاورې کړل،له دې وروسته د دې سیمې نوم بتخاک ونومول شو".(4)

" نور الدین کابلي شاوخوا لس ځایه په نظم کې ځان د بتخاک په اړوند سیمې پورې ګڼي؛نوموړی د بتخاک د نقیب صاحب د کورنۍ مرید پاتې شوی هم دی او په دې لړ کې یې دغې کورنۍ ته یو لړ نظمونه هم ویلي دي.نور الدین کابلي په خپلو نظمونو کې په کابل کې د سقاوو پاچا یادونه کوي او له دې ښکاري چې نوموړی پر دې مهال ژوندی و.سقاوو چې اصلي نوم یې حبیب الله کلکاني دی؛ په ۱۹۲۹ ز کال کې د انګریزانو په مرسته کابل کې خپل حکومت اعلان کړ او د نوموړي واکمني دوره یو له تورو او بدبختیو او وروسته پاتې والي دورو څخه ګڼل کیږي".(5)

په دې توګه مونږ ویلی شو،چې نورالدین کابلي د معاصرې دوره ناظم او شاعر تېر شوی دی. نوموړي د سقاوو د دورې یو څو کسان(خواجه اسحاق،محمد علي خان،عبدالحمید دوکاندار او د بګرام احمد خان کوټ حوالدار او د میدان میرزامحمد) یې مخبران ګڼلي او بد یې پرې ویلي دي.

نور الدین کابلي د خپل پلار، کورنۍ او په قوم په اړه هیڅ مالومات په لاس نه ورکوي،بلکې له نظم یې په ورایه جوتیږي،چې نوموړی عاجز او صوفیانه خوی او خصلت درلودلی دی،ځکه کابلي په دنیا ډېر باک نه لري،بلکې د نورو عارفانو او صوفیانو په څېر له دنیا بیلتون او له اخرت سره پیوستون غوره ګڼي او حقیقي سکون په حقیقي او دایم الاعمره دنیا کې ګڼي؛نو وایي:

"سکون زه نه لرم دنیا کې رب مې ته يې پاک الله
په خوله وايم اشنا اشنا لا اله الا هو"(6)

د نور الدين کابلي د زده کړو په اړه وويل شي، چې نوموړی يو مبتدي لوستی شخص دی او دوديزې زده کړې يې تر سره کړې دي او ان په ليکنو کې يو لړ فاحشې املايي ستونزې هم لري، لکه:

اهل په احل، همراه په حمرا، نثار په نسار، عاصي په عاسي، قضا په قظا، اظهار په اضهار، حديث په حديس، حاکم په هاکم، ثاني په ساني، عذاب په عزاب، ساقي په صاقي، عرض په ارض او يو لړ نور املايي تېروتنې لري. همداشان نوموړی د پښتو او عربي تورو او ليکدود کې هم ستونزې لري او يو لړ کلمې يې په عاميانه ډول ليکلي دي، چې ګومان کوم د خپلې لهجې تابع يې ګرځولي دي لکه:

ښځه په خزه، ښکنځل په کنزل، خود په خد، لمونځ په منز، شفيع په شفي، خويش په خيش، هير په ير، ړ په لړ ليکي او داسې ډېر بدلونونه يې په ليکدود کې محسوبېږي، خو بيا هم نظم يې وزمين دی او د محتوا له مخې ښو موضوعاتو ته يې اشاره کړې ده.

**د نورالدين کابلي نظمونو ته لنډه کتنه**:

که څه هم نورالدين اشعار لږ ويلي او نظم يې ډېر ويلی، خو نظم يې له يو لړ ادبي صنعتونو ډک دی او په شکلي لحاظ غزل يې هم ويلی دی. په موضوعي لحاظ کابلي عرفاني او تصوفي افکارو څخه ډک نظمونه ويلي دي او په دې لړ کې يې يو لړ ټولنيز او دنياوي مسايل يې هم په خپلو شعرونو کې څرګند کړي دي.

نوموړي د څومره والي په لحاظ ډېر زيات نظمونه ويلي او د ديوان يا نسخې ترتيب يې هم مردف دی په دې مانا چې د نظمونو خاتمه يې الف- ب رديف تعقيبوي، خو دا لړی کله کله ترې پرې شوې هم ده. يعنې مردفه اوډنه ترې غير مردف شوې هم ده.

"د کابلي نظمونه او شعرونه ډېری يې غزل بڼه لري البته په هندسي او شکلي جوړښت کې لکه لاندې بيتونه، چې غزل په بڼه دي، ځکه غزل هغه د شعر هندسي جوړښت دی، چې مطلع ولري، يانې د سر بيت يې اکثرا مقفي وي او د بل هر بيت دويمه مسره يې قافيه ولري او د مطلعې قافيه تعقيب کړي".(7)

نوموړی وايي:

"ليونی شوم د عشقه لا الله الا هو
قده شيشه مې ده په لاس لا الله الا هو

دا ستا د عشق په جواریۍ کې مې راپاتې کړ خپل ځان
ناخبرله خپل ایمان یم لاالله الاهو

بل ځي کې کابلي یو بل بې مطلعې غزل هم وېلې ده،بې مطلعې هغه غزل ده،چې یوازې مطلع نه لري او د سر لومړی بیت یې مقفي نه وي".(8)

لکه چې وایي:

اشنا له بوی نه خجالت ده مشک د چین
ستا د زلفو بوي زه نه وینم ریحان کې
د واړه سترګې نابېنا شو د یعقوب
یاره پروت و دا ستا له جوره په کنعان کې

په ورته شکل فارسي کې هم یو غزل لري چې وایي:

طلب کردم عمرخود توکن یاشاه
خلاصم زاین بلابه دل ګویم که هوالله
به خاک وخون فتادم من زدست لعین شیطان
توکن مافي ګنایي مابدل ګویم که هوالله

"همدا ډول د کابلي په اشعارو کې ځای ځای تلمیح هم لیدل کیږي.تلمیح په ادبي اصطلاح کې که شاعر په خپل شعر کې یوې مشهورې پېښې یا کیسې ته اشاره کوي تلمیح بلل کیږي".(9)

دلته شاعر همدا بدیعي فن نه کار اخلي او وایي:

د واړه سترګې نابېنا شو د یعقوب
یاره پروت و دا ستا له جوره په کنعان کې
شرین یاره ته نظر وکه یوسف ته
ستا له حجره ځان بندي کړپه زاندان کې

بل ځای کې د افغانستان کې د ننه د خراسان نوم اخلي او وایي:

زه غلام ډیر اغایم له اخلاص
نن بادار مې دی ښکاره په خراسان کې
دا دنیا د ډېرو ګډه شوه نورالدین

نور ځای نشته ده دا ستا په دا دیوان کې

"خراسان د لرغونې افغانستان د یو لړ سیمو نوم و،چې مهمې سیمې یې
نیشاپور،مرو،بلخ او هرات وو".(10)

له دې ښکاري چې شاعر خپل بادار په پورتنیو ښارونو کې لټوي او د خراسان د لرغوني سیمې په اړه کافي مطالعه لري. د نورالدین کابلي په ژوند ژواک او شاعرۍ ډېر بحث په کار دی او بویه چې د نوموړي دیوان ښه وڅېړل شي کیدای شي یو لړ ادبي تاریخي نوښتونه په کې وموندل شي،یوه لیکنه په دې برخه کې کافي نه ده.

## حوالې

(1) حسین تسبیحي، محمد ، ډاکټر ،۲۰۰۵، فهرست الفبایي نسخه های خطي کتابخانه گنج بخش ،مرکز تحقیقات فارسي ایران و پاکستان ،اسلام آباد ، ایس تي پرنټرز اینډ پبلیشرز ،مخ۴۶

(2) حبیب زوی، عبدالرحمان، ناچاپ اثر ،د داتاګنج بخش د کتابخانې د پښتو مخطوطاتو تحقیقي او تنقیدي جایزه، ، مخ ۴۰۱ش

(3) [1]http://afghanistanefarda.blogfa.com/post/495

(4) اریانا دایره المعارف،دوهم ټوک،د افغانستان د علومو اکاډمي د اریانا دایره المعارف ریاست،نبراسکا مطبعه،کابل،مخ۷۱

(5) محمد غبار، میر غلام ،۱۹۶۷، لومړی چاپ،افغانستان در مسیر تاریخ،د افغانستان دولتي مطبعه،کابل، مخ۸۲۶

(6) د نورالدین کابلي خطي نسخه،داتاګنج بخش کتابتون،د ایران او پاکستان د فارسي څېړنو مرکز،اسلام آباد ،ایف ۳/۶.

(7) اسماعیل یون، پوهیالی محمد ،د پښتو شعر هندي جوړښت،دانش خپرندویه ټولنه،کابل،۵ مخ.

(8) همدغه اثر،مخ۱۶

(9) ابراهیم همکار، محمد، پوهنیار ،د بدیع فن او پښتو شاعري،دانش خپرندویه ټولنه،کابل،مخ۱۵۱

(10) اریانا دایره المعارف،دریم ټوک،د افغانستان علومو اکاډمي د اریانا دایره المعارف ریاست،نبراسکا مطبعه۲۰۱۰، ۴۶۲-۴۶۳مخونه.